مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۶/۰۵/۱۱

# له پاکستان سره ستونزي او د حل لاره یې

نن، د مي د میاشتي پر لسمه نیټه، مي د افغان جرمن په ویب سایټ کي د محترم عبدالوحید وحید یو مضمون ولوست چي د افغانستان پر خاوره یې د پاکستان د بریدونو په اړه لیکلی وو. زه له ښاغلي وحید څخه مننه کوم چي د هیواد د روانو ستونزو په باره کي یې مضمون لیکلی دی. ځکه زموږ اکثر لیکوالان پرداسي موضوعاتو مضامین لیکي چي د افغانستان له روانو ستونزو سره هیڅ اړه نه لري. ګواکي په هیواد کي هیڅ پېښه نه ده سوې او هر څه په سمه روان دي. البته ځیني لیکوالان چي څه لیکي نو زیاتره د طالبانو د اوسني رژیم کړني اوعملونه، په یوه او بل ډول، توجیه کوي اوپلمي ورته برابروي.

زه بنایي د ښاغلي وحید له ټولو خبرو سره موافقه ونه لرم او زه ګومان کوم چي دا طبیعي هم ده. په اصطلاح «هرکله بیرخیال» مثلاً ښاغلی وحید پر افغانستان باندي د پاکستان د څرګندو تېریو یو عامل د افغانستان پوځي کمزوري بولي. په داسي حال کي چي افغانستان د اعلیحضرت محمدظاهر شاه او شهید داوود خان په وختونو کي هیڅ وخت تر ۸۰ زره زیات پوځي قوت نه درلود. خو پاکستان هیڅ وخت پر افغانستان باندي د تېري کولو جرأت نه سو کولای. نن ورځ په داسي حال کي چي د تېر جمهوري نظام لږترلږه ۲۰۰ زره سرتېري ورپاته دي او تقریباً ۱۰۰ زره طالباني قوت لری او پر پخوانیو وسلو برسېره د امریکا له وتلو څخه وروسته د څه باندي ۶ بېلیونو ډالرو په اندازه عصري وسلي اومهمات ورته پاته سول؛ او لا د امریکي له لوري هره میاشت څه باندي ۱۵۰ میلیونه ډالره نغدي پیسي ور رواني دي. موږ لاڅرنګه د افغانستان د پوځي کمزورتیا خبري کوو؟ په داسي حال کي چي د ظاهر شاه او داوود خان په وختونو کي افغانستان د ۱ بېلیون ډالرو په ارزښت وسلو درلودلو تصور هم نه سو کولای. د دې ترڅنګ لا له پاکستان سره د لویو قدرتونو بین المللي ملاتړ هم ملګری وو خو نه ایران او نه پاکستان زموږ پر خاوره تېري کولو ته زړونه ښه کړل.

زه سره له هغه هم دا نه وایم چي طالبان دي د پاکستان پوځي یرغل ته په پوځي زورجواب ورکړي. افغانستان په هیڅ صورت د پاکستان د تقریباً یو میلیوني روزل سوي اومجرب پوځي قوت سره مقابله نه سي کولای. پاکستان د خپل پوځي برلاسي ترڅنګ په سلګونو بیلیونو ډالرو عصري وسلي او اتومي طاقت لري. افغانستان به په کوم زور د پاکستان د پوځي یرغلونوجواب وایي؟ موږ وایو چي طالبانو نه یوازي د پاکستان پوځي یرغلونوته جواب نه دی ورکړی بلکه داسي چوپ دي لکه چي هیڅ پېښه سوي نه وي. البته تر هغه ځایه چي زه معلومات لرم ویل کیږي چي د طالبانو غایب مشر هبت الله د طالبانو د دفاع وزیر ملایعقوب او داخله وزیر سراج الدین حقاني ته هدایت ورکړی او امر یي ورته کړی دی چي د وروړ هیواد پاکستان په مقابل کي به له ناندریو او توندو الفاظو له کارولو څخه ځانونه ژغوري. او دغه علت دی چي ملایعقوب له څه وخته نه په مطبوعاتوکي ښکاري او نه یې بیا هغه پخوانی غوري کړي دي.

په کابل کي د امید پر روغتون باندي د پاکستان د بمباری په اثر زیات و کم ۵۰۰ تنه بې ګناه انسانان شهیدان سول. طالبانو هغوی په ډله ایز قبر کي خاورو ته وسپارل. نه یوازي د پاکستان پر دې څرګند تېري باندي یې اعتراض قدر ونه کړ بلکه د طالبانو داخله وزیر سراج الدین حقاني وویل چي طالبان له پاکستان سره د انتقام جذبه نه پالي او له هغه هیواد سره اُخُوَت نه خرابوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

له هغې نېټې څخه تر اوسه پورې پاکستان څوځو ځله پر کونړ او پکتیکا باندې بمبارۍ کړې او توغوندي يې ورباندې اورولي دي. طالبانو اعتراض قدر هم نه دی کړی. په داسې حال کې چې اعتراض کول هیڅ ډول پوځي زور ته اړتیا نه لري.

تقریباً درې میاشتې مخکې د پاکستان پوځي قواوو د نورستان د ولایت درې څلور اولسوالۍ تقریباً یوه نیمه میاشت محاصره کړې. د هغو محاصره سویو اولسوالیو اوسېدونکي د لوږې د مرګ له خطر سره مخامخ سول. بالآخره پاکستاني مقاماتو د هغو اولسوالیو مشران د ډیورنډ د کرښې پورې غاړې ته ور وغوښتل اوله هغوی سره يې یوه موافقه لاسلیک کړه یا يې موافقه ورباندې ومنله. دا د یوه خپلواک هیواد پر ارضي تمامیت باندې ښکاره تېری دی. طالبانو بیا هم اعتراض قدر ونه کړ.

د پاکستان حکومت تر هغه وروسته، د ډیورنډ پر پورې غاړه، د کونړ، مومندو، باجوړ، نورستان او چترال د قومي مشرانو سره جرګه جوړه کړه او په هغوی يې یو بل سند لاسیک کړ. د افغانستان پخواني اولسمشر حامدکرزي د پاکستان دا وروستي اقدامات د افغانستان د خاورې پر تمامیت باندې ښکاره تېری وباله. خو د طالبانو مشرانو نه د ښاغلي کرزي ادعا رد کړې او نه يې د پاکستان د دې ښکاره تېریو په مقابل کې عکس العمل ښودلی دی.

د طالبانو غایب مشر هبت الله پر افغانستان باندې د پاکستان د ښکاره تېریو له پیل څخه تر اوسه پورې د هغه هیواد په مقابل کې یوه منفي خبره نه ده کړې. مګر کله چې د ملا ادریس په نوم یو اخوند په پاکستان کې ووژل سو نو هم يې د هغه پر مړینه خواشیني وښودله او هم يې په پاکستان کې د طالبانو دایمي حامي او ملاتړي مولنا فضل الرحمن ته د خواشینۍ پیغام ولېږی. یعني غایب مشر نه ګونګی او نه بېخبره دی بلکه د خپل بادار په مقابل کې، چې شل کاله يې په خپله پسته غېږه کې ځای ورکړی وو، بې احترامي نه کوي اوقصداً چوپ دی.

محترم ورور عبدالوحید وحید، خبره د پاکستان سره د پوځي مقابلې نه ده بلکه خبره په ښکنده توګه بندګۍ ته رسېدلې ده. زه حتی د ښاغلي حامدکرزي له دې خبرې سره موافقه نه لرم چې وایی پاکستان، په خپله خاوره کې، د افغاني او د پولې د پورې غاړې د قومي مشرانو د جرګو په جوړولو سره د ډیورنډ کرښې ته رسمیت ورکوي. بلکه وایم چې خبره تر ډیورنډ تېره ده. پاکستان اوس پښې تر خپلې کمبلې اوږدې کړې دي او د وروستیو غیر قانوني قومي جرګو په جوړولو سره يې وښودله چې هغوی اوس د افغانستان په خاوره دعوه لري او د ځان يې بولي. زه ځکه پاکستان په دې مسله کې حق په جانب بولم چې په افغانستان کې واکمن طالبان د هغوی غلامان دي. کله چې د یوه هیواد واکمنان د خپلې خاورې د تمامیت دفاع ونه کړي نو دا دفاع به څوک کوي؟

بیا به نو د خاورې څخه د دفاع کولو مسوولیت د اولس غاړې ته لوېږي. په داسې حال کې چې له اولس سره نه پوځي طاقت سته او نه د خپلو واکمنانو ملاتړ ورسره دی. زه وېره لرم چې که اولس د پاکستان د پوځ مخې ته ودرېږي طالبان به د شا له لورې ډزې ورباندې وکړي او بې دفاع اولس به د دوو غلیمانو په منځ کې ګیر سي.

محترم عبدالوحید وحید، نه پوهېږم چې تاسې به خبر یاست کنه؟ اوس ځینو په اصطلاح سیاست پوهانو او علماوو پر دغه راز لیکنو باندې بندیز لګولی دی. دوی وایي سیاست باید سیاستمدارانو ته پرېښودل سي او د دوی په اصطلاح ترکاڼي د بیزو کار نه دی. یعني ما غوندې خلکو ته هغوی په سیاست کې د خبرو کولو حق نه ورکوي. په داسې حال کې چې پخپله د طالبانو د غیر انساني او غیرمدني وحشیانه واکمنۍ د مشروط ملاتړ په پلمه د هغوی بشپړ ملاتړ کوي او دا ځکه خپل حق بولي چې ځانته د سیاستمدار په سترګه ګوري. په داسې حال کې چې په ژوند کې به يې یو صحیح سیاسي ګام اخیستی نه وي.

طالبان اوس حاضر غواړي د عصري تعلیم او تحصیل د ځپلو، په مقابل کې هر کال له خپلومدرسو څخه د لسګونو او لا ښایی سلګونوزرو طالبانو او ځانمرګو په فارغولو، د مطبوعاتو د آزادۍ د محدودولو او بالآخره په بشپړه توګه له منځه وړلو او د ژورنالیستانو په بندي کولو اوتهدیدولو سره د هیواد د عرفان سترګې ړندې کړي. او بیا نو د خلکو د بندي کولو، وهلو او وژلو او حتی، د ټولو افغاني او بشري ارزښتونو په خلاف، په عام محضر او بازارونو کې د ښځو د ډبولو له لارې په خلکو کې داسې وحشت او رعب قایم کړي چې له هغوی څخه د مقاومت اراده سلب کړي او بالآخره پاکستان ته خپله هغه اندازه خاوره چې هغوی يې غواړي ور وبخښي.

ما څو هفتې مخکې د یوه پاکستانی جنرال دا خبره په ټلوېزیوني مرکه کې واورېده چې ویل يې پاکستان د خپل امنیت لپاره ضرورت لري چې، د ډیورنډ د کرښې په امتداد، د افغانستان په خاوره کې لس کیلومتره دننه حایله سیمه جوړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کړي. دا خبري ښايي په لومړي سر کي د يوه پاکستاني جنرال او يا ځينو جنرالانو پرېشان خوبونه وګڼل سي خو که وضع په دغه شکل دوام وکړي يوه ورځ به ګورو چي خدای مه کړه دا خوبونه ريښتيا سوي وي. اوس حاضر خو هر څه د افغانستان د اولسونو په تاوان او د طالبانو د پاکستاني بادار په ګټه روان دي.


په افغان جرمن آنلاين پورتال کی د جهاني صاحب آرشيف



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ